# د افغانستان دموکراتیک جمهوری دولت

## د افغانستان د دموکراتیک جمهوری انقلابی وظیفو اساسی کرښی

★ ★ ★ ★ ★

## خطوط اساسی وظایف انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان

★ ★ ★ ★ ★

## سریزه

دیوې ټولنې او یوه جنبش دځرنګوالي دمشخص تحلیل ،دټولنیزو قوانینو دبشپړتیا پیژندنه ،دیوې ټولنې دانقلابي اوښتون لپاره داقتصادي ،سیاسي اجتماعي او فرهنګي وظیفو معلومول ،دا ټول دداسې اولسي او د دیموکراتیکو رژیمونو له بیلګو اومشخصاتو ځخه دي چې ستنې یې د میلیونونو زیار ایستونکو انسانانو په اوږو ولاړې دي.

دافغانستان د دیموکراتیک جمهوریت دانقلابي دندو اساسي کرښې هم دهیواد دمشخصې وضعې هراړخیزه او ژوره لیدنه ،او دیوې وروسته پاتې ساتل شوي ټولنې دعیني قوانینو دتکامل پیژنده چې په علمي لحاظ تنظیم شوېده ،او دخلکو ددیموکراتیک ګوند عمومي منشي ، دانقلابي شورا ریس او دافغانستان د دیموکراتیک جمهوریت صدراعظم نور محمد تره کي له خوا دثور په نولسم ماښام ۱۳۵۷ کال چې د مې د میاشتې نهمې نیټې ۱۹۷۸کال سره سمون خوري دراډیو له لارې خپرې شوېدي.

دافغانستان د ملي ښوونې او روزنې وزارت ددې لپاره چې دانقلابي مبارزینو علمي او عملي انقلابي وظیفې تنظیم کړي او په تیره بیا ددې لپاره چې دهیواد پالو ښوونکو ،زده کونکو ،دنن اوسباخپلواک افغانستان پیاوړي نسلونه تنظیم شي نو داسې پریکړه یې وکړه چې دافغانستان د دیموکراتیک جمهوریت انقلابي دندې او اساسي کرښې په پښتو ،دري ،ازبکي ، بلوچي ، اونورستاني ژبو طبع او خپرې کړي ترڅو چې ددې هیواد د زړه ورو خلکو ویښ بچیان ورباندې ښه پوه شي او دنن سبا د ژوندون کړکېچنې لارې خپلو ځانو ته رڼا او هوارې کړي.

د ښوونې او روزنې وزیر

دستګیر پنجشیری

د افغانستان د دموکراتیک

جمهوری انقلابی شوری د

رئیس او صدراعظم نورمحمد

تره کی د راډیو یی وینامتن چی

د۱۳۵۷ کال دغویی په

۱۹نیته یی ماښام له

راډیو افغانستان

څخه

واوروله

★

بسم الله الرحمن الرحیم

ګرانو وطنوالو !

د۱۳۵۷ کال دثور داوومې نیټې وسلوالوقیام ،دموکراتیک ملي انقلاب دپیل دنقطی په توګه چې دافغانستان دزیارایستونکو خلکو د ارادی په اساس اود افغانستان دخلکو دموکراتیک ګوند په لارښونه او د وطن پالونکو افسرانو او زړه وروسربازانو په واسطه پای ته ورسید زمونږپه ګران او ویاړلی وطن افغانستان کې یی نوی تاریخي مرحله پرانسته .

دتاریخ پدې پړاو کې دملي دموکراتیک انقلاب بشپړ بری دافغانستان ددموکراتیک جمهوری حکومت د هغو فوري او ضروري وظیفو دسرته رسولو غوښتنه کوي چې دهغوی اساسی کرښې د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت دانقلابي شوری د منلی شوی جاری او عمومي تګلارې پر بنسټ باندې تاکلی اومشخص شوېدی . البته دحکومت انقلابي وظیفو داساسی کرښو له روښانولو څخه دمخه لازمه ده په لنډه توګه دثور د اوومی نیټې دانقلاب پر پس منظر باندې رڼا واچوله شي .

د دیارلس سوه دوه پنځوسم کال دسرطان په شپږویشتمه نېټه په افغانستان کې دیوشمیر وطنپالو افسرانو په ګډون نظامي کودتاه وشوه چې دهغې په نتیجه کې ظاهراً سلطنتي رژیم رنګ شو د سلطنتي منسوخ رژیم د راپرځولو زمینه دانقلابي وطنپالونکو قوتونو له خوا د افغانستان دخلکو د دموکراتیک ګوند په لارښوونه دپرلپسې مبارزی له لارې په هیواد کی له پخوا نه چمتو شوی وه . لیکن مستبد اوجاه طلب سردار محمد داود په مکر او ماکیاولستی طریقه دولتي قدرت په خپل ځان کې راټول کي اوپه لومړي سر کې یی دخلکو د غولو له پاره یوځه مترقي پروګرام اعلام کړ چې د مترقي قوتونو له خوا یی ملاتړ وشو . مګر دپنځو کلونو په موده کې عملاً په هیواد کې داجتماعی اواقتصادي پرمختګ په لوری هیڅ راز بدلون رانغی . د وراسته سلطنت بقایا ،او فاسده بوروکراسي او د سلطنتي رژیم اوحاکمو ستمګرو استثمار ګرو طبقو ځورونکو ماشین په هیواد کې ژوندی او روغ رمټ پاتی شو . دمحمد نادر دخاندان سلطنتی داړی په هیواد کې دننه او دباندی دافغانستان دخلکو دداخلي او خارجي دښمنانو په مرسته خپلوسلطنتي خاینانه دسیسو ته دوام ورکړ . درژیم له خوا دظالمو اواستثمارګرو حاکموطبقو سیاسي قدرت دپخوا په شان چلیدې اوپه نتیجه کی دافغانستان دولتی قدرت دموکراتیکو اوملی طبقو اوقشرونو لاس ته ورنغی . محمدداود له یوی لنډی مودی وروسته له دولتی مقامونو څخه د ملی اومترقی عناصرو د شړلو په واسطه عملاً دښی لاس مرتجعو سلطنت غوښتونکو عناصرو سره او د داخلی او خارجی ارتجاع له مزدورانو سره لاس یوکې او دوراسته سلطنت پلویان اود وطن خاینان یی په حساسو دولتی مقامونو کی ودرول .هغه خوشی هڅه کوله چې خپل واقیعی ماهیت اوضد دموکراتیک او ضد انقلابی نیتونه اوهدفونه د ظاهراً مترقی جلمو اوانقلابی عبارتونو په پرده کې پټ کړي او خلکو او اکثریت ته د خدمت لافی ووهي ده عملاً دسلطنتی رژیم د ستمګری ماشین چې خونکار نادر او جلاد هاشم په استعماري دول رامنځته کړي او بی لدې چې تغیر ورکړې ، پخپل حال پریښود او پر هغه یی تکیه وکړه .

**د داود ملي ضد سیاست :**

مسبتد او عوام غولونکو داود تش په خبرو کې ، مترقي و خوپه عمل کې یی یوضد دیموکراتیک اوضد ملي خاینانه سیاست وچلاوه . دخلکوسیاسی آزادی یی بند کړی د هغوی دموکراتیک حقوق یی ټول سلب کړل اوپه پوره بی شرمۍ سره یی دافغانستان آزاد خلک داستعماري اداری په دود توهین کړل .

داسی چې ګواکی دافغانستان خلک لا تراوسه خپلی طبیعی ودی ته ندی رسیدلی دداود خیرن اوتور رژیم بی لدی چې داستمعار ،استبداد ،او ارتجاع پرضد دافغانستان دخلکو د قهرمانانه مبارزو پړاو وساتي په بی شرمۍ سره یی ادعا وکړه چې دده څوتنه فاسد او د ارتجاع ،امپریالیزم اجیر ملګری د ملی انقلاب دتش په نامه ګوند رهبران چې ماهیتاً ضد انقلابی او ملی ضد و وکولی شی چې دافغانستان زیارایستونکی خلک طبیعی ودی ته ورسوی .

د محمد داود د تروراو اختناق رژیم دخلکو دپرګنو دغولولو په مقصد اودهغوی هوښیاری دتخدیرولو او له حقایقو څخه دهغوی دپام اړولوپه خاطر ،دانقلاب مقوله ،چې پراخه محتوی او علمی معنی لري ،مبتذله کړی اومسخه کړی وه زمونږ دعصر اوپیړۍ دمترقی انقلابی افکارو دخپریدو دمخنیوی په مقصد او د خلکو دپرګنو دخبرتیا دمخنیوی لپاره یی په خاینانه توګه ،علمی ایدیالوژی وارده ایدیالوژی وبلله او خپله غیرعلمي ګیډۍ ،التقاطی ،بی بنسټه اوجعلی ملي ایدیالوژی چې له سره یی علمي محتوی نه لرله خپروله .

**د داود د رژیم اقتصادی وضع :**

د محمد داود د اسیرونکی اقتصادی سیاست په نتیجه کی چی له اداری فساد ،قانون ماتولو ،پخپل سری رشوت خوړلو ،اختلاس اوهر راز ناوړواستفادو سره مل شوی و ،دهیواد اقتصادی وضع یی پرلپسی د زیاتیدونکی خطر اوبحران خواته بیوله . دا دوه کلن پلان تش په نامه انکشافي برخه کی یی ډیره لګه پانګه اچونه په نظرکی نیولی وه چې په سلو کی اتیا په بهرنیو مرستو او پورونو باندی تکیه وه . سره لدې هم رژیم ونشو کولای چې دخپل اوه کلن پلان د لومړیو او دویمو کلونو په اوږدو کی داکشافي بودیجې کې دمجموع قابو په سلو کې پنځوس برابره کړي او ویی لګوي.

لکه څرنګه چې د دیارلسوه پنځه پنځوسم کال په نظرکې نیول شوی انکشافي بودیجې دڅوارلس ملیاردو اوویشت میلونو افغانیو له جملی څخه یی یوازې اوه ملیارده اونه سوه اوه پنځوس ملیون افغانۍ اوپه دیارلسوه شپږ پنځوسم کال کې دشل ملیاردو او دوه سوه دري دېرش میلونه افغانیو له جملې نه ګواکې نه ملیارده او دوسوه میلونو افغانیو په حدود کې لګېدلی دي .

د محمد داود رژیم ددې پرځای چې دانکشافي پروژو دتمویل لپاره د ډاډ وړ داخلی اوخارجي منابع پیداکړي ، دې ته حاضر شو چې د وطن اودافغانستان دخلکو ملی ګټې ترخپلو سیاسي خاینانه قمارونو نه جار کړي او داسیرونکو او دسیاسی او اقتصادي قید اوشرط لرونکو پورونو دبښلو د وعدې او ژبې په مقابل کې دنوی استعمار غوښتونکو ته غاړه کیږدي .

د داود خارجي سیاست د امپریالیستی ارتجاع او په هغې پورې د مربوطی ارتجاع په مقابل کې هره ورځ په زیاتیدونکی ډول سره ،د معامله ګرۍ ،سازشونو اوتسلیمیدو لور ته تی .

لنډه داچې دمحمد داود رژیم د ذکر شوی ضد دیموکراتیک ضد ملي او دهیواد دخلکو د ګټو ضد سیاست د چلولو له کبله د یو تروریستی او فاشیزم رژیم او په داخلي اوخارجي ارتجاع پورې دمطلقاً پیوست شوی نظام درشل ته راغی او ددې سیاست له مظاهرو څخه د څوتنو وطنپالونکو ترور او له هغې جملې څخه دهیواد دخلکو د یوه ډېر ښه وطنپرست اوزیار ایستونکی زوی شهید خیبر ،ترور او وژل او اوهمد ا راز دانقلابي وطنپرستانو د ګرفتارۍ اوبندی کولو ، ځنځیراو ولچک کولو ترور اواعدام او دترقي غوښتونکو وطنپرستو او دیموکراتیکو قوتونو تکول اوله هغې جملی څخه دافغانستان د دیموکراتک جمهوریت دانقلابی

شوری دموجودو غرو ځپل وو . پدې توګه بيخی څرګنده اود پوهيدو وړ خبره وه چې دخلکو پرګنو دظاهر شاهی او داودی رژيم په خونړيو منګولو کې په ظلم اوستم په فقرابيکارۍ په ناروغۍ او بيسوادۍ کې لاس اوپښې وهلی ،او هغوی په کلکه سره ناراضه وه او د محمد داود مستبد رژيم بيخي له خلکو څخه ګوښی او مخامخ دهغوی پرضد واقع شوی وه . دغه خپګان په وروستيو ورځو کې له بالقوه حالت څخه بالفعل حالت اوله خپل کمی تراکم څخه په کيفی تغيراتو بدل شو او په هيواد کی ددموکراتيک او ملی انقلاب دپيل لپاره عينی او ذهنی شرايط پوخوالي ته ورسيدل او دهغوپه نتيجه کی د۱۳۵۷ کال د ثور د اوومې نېټې وسلوال انقلابي قيام دافغانستان دخلکو دموکراتيک ګوند په لارښوونه په ړنا ورځ په ډېر لږ وخت کې اوله ډيرو لږو ضاياتو سره د محمد داود د تروريستی اوفاشيستی رژيم ټغر ورټول کړ له همدې کبله دثور د اوومې نېټې انقلابي قيام په واقعی مانا دافغانستان دخلکو يو بريالی انقلاب دی نه يوه کودتاه .

**د انقلاب دندې (وظيفې ) :**

اوس چې انقلابی شوری او د افغانستان دموکراتيک جمهوريت حکومت د ثور داوومې نېټې ترمسلحانه قيام وروسته دهيواد زيارايستونکو او آزادوخلکو د دموکراتيکو طبقاتو او قشرونو حاکميت تمثيلوي داخپله دنده بولي چې دخلکو پراخو پرګنو په ملاتړ او ګډون هغه ملی دموکراتيک انقلاب ټينګ کړي او تکامل ورکړي او تر وروستی بري يی ورسوی چې په قانونمند ډول سره پيل شوېدي .

دافغانستان دموکراتيک جمهوري حکومت دخلکو دانقلاي شوری دايجادولو لپاره دشرايطو برابرولو او دافغانستان دموکراتيک جمهوريت د اساسي قانون د تدوين په نظر کې نيولو سره او د وګړو او کورنيو دمصونيت او دموکراتيکو ازاديو د رعايت کولو اوپه هيواد کې د دموکراتيک قانونيت د بسيا کولو اوتحکيم داصل مراعت داسلام مقدس دين ته احترام او غوره ملي عنعنو او دودونو ته او همدا راز دشخصي ملکيت اصل ته ددرناوی کولو له لارې خپل انقلابي وظايف پدې پړاو کې له لاندنيو اساسي اصولو سره سم ادا کوي .

**د داخلي سياست په برخه کې :**

پداسې حال کښې چې دهيواد د خاوری له تماميت ملي حاکميت او ملي استقلال او د۱۳۵۷ کال ثور د اوومې نېټې د انقلاب له ثمراتو څخه دفاع کول دضد انقلابي قوتونو ځپل اوشنډول او د انقلاب په دفاع کښې دټولو دموکراتيکو او ملي ترقي غوښتونکو او وطنپرستو قوتونو د عمل وحدت بسيا کول دهيواد د خلکو امنيت ،مصنوونيت ،آزادی او يووالي تامينول د افغانستان دموکراتيک جمهوريت يوه لومړنۍ دنده ده . داقتصادي وروسته پاتی والي د لمنځه وړلو دمسئلو حل د يوه ملي مستقل اقتصاد ايجادول ،د اقتصادي ودې دګامونو چټکول ، دکرهنۍ او مالداری پراخول اوعصری کول دهيواد صنعتي کول او دخلکو د پرګنو دژوند دسطحې لوړول په ډېره لنډه ممکنه موده کې د لاندنيو اجتماعي ،اقتصادي او بنيادي تحولاتو د اجراکولو غوښتنه کوي .

۱- د زيار ايستونکو بزګرانو په ګټه او د هغوی په ګډون دځمکو د دموکراتيکو اصلاحاتو سرته رسول او دشاړو ځمکو ودانول دابو لګولو دسيستم اصلاح اوپراختيا او د ځړ ځايونو دمسالی حل .

۲- دفيـــــــــوډالي او ماقبل فيـــــــــوډالي زړو مناسبــــــاتو لغـــوه کول .

۳- دخلکو په ګټه او د هیواد ملي مصالحو سره سم د داخلي اوخارجي تجارت په برخه کې له تدبیرونو سره د لازمو اقداماتو سرته رسول .

۴- له علمي پلان جوړولو سره د اقتصاد د دولتي سکتور پیاوړي کول او د هیواد پر طبعی زیرمو او منابعو باندې د اغیزمن حاکمیت ټینګول او دملی کادرونو روزل .

۵- داجتماعي ژوند او دولتي دستګاه دموکراتیک کول .

۶- دملي مسالی دموکراتیک حل .

۷- په راز راز ډګرنو کې او له هغی جملې نه په اقتصادی ،سیاسي ،کلتوري او ایډیالوژیکی برخو کې د امپریالیزم او په هغه پورې د مربوط نوي استعماري نفوذ له منځه وړل .

۸- له ضد انقلاب ، له ضد دموکراتیک او خلکو او وطن دګټو له ضد عناصرو څخه ددولت د دستګاه پاکول او یوې روغې دموکراتیکې او خلکو ته د دولتي ادارو ایجادول .

۹- دافغانستان د دموکراتیک جمهوریت د آزادي ښوونکی ملي قهرمان اردو تقویه کول او تکامل ورکول چې د انقلاب او دهغه د ثمراتو دفاع وکړي .

د وطنپالونکو افسرانو او سربازانو دبشپړو او عادلانه حقوقو بسیا کول او بیا په تیره بې له تبعیض او امتیاز څخه له ټولو وطنپالونکو سره اوږه په اوږه د هیواد په سیاسي اواجتماعي هلو ځلو کې د هغوی د پراخ ګډون د حق تامینول .

۱۰- دخلکو په ګټه د دموکراسۍ تامینول او دافغانستان د خلکو دکارګرانو ،بزګرانو .کسبګرو ،روشنفکرانو ،وطنپالونکو روحانیونو ،زیارایستونکو کوچیانو ،کوچینیو او منځنیو طبقو اوقشرونو یعنی دهیواد د سوداګرو او ملی پانګوالانو د دموکراتیکو حقوقو او آزادیو تضمینول او د اقتصادي صنفي غوښتنو پوره کول .

۱۱- په ټولو برخو کې د دموکراتیکو قوانینو جوړول او تطبیقول او د هغوټولو قوانینو مقرراتو او موسسو لغوه کول چې د۱۳۵۷ کال دثور د اوومې نېټې دانقلاب له ارمانونو او اصولو سره تناقض لري .

۱۲- په ټولو اجتماعي ،سیاسي ،ثقافتي او مدني برخو کې له نارینه وو سره د ښځو د حقوقو د برابری تامینول .

۱۳- دکوچیانو د مسئلی دموکراتیک حل .

۱۴- دخارجي مالونو په مقابل کې د داخلي صنایعو او تولید ملاتړ اوپه کوچنیو او منځنیو صنایعو او موسسو کې د پانګې اچولو ملاتړ کنترول او لارښوونه .

۱۵- د هیواد د ودې د آهنګ دچټکولو په منظور د دوستو هیوادونو سره د اقتصادي مناسباتو او فني مرستو پراخول او د هغوی د بی قیده او شرطه پورونو جلبول

۱۶- دتولیدي ،تعلیمي ،روغتیایی ،عمراني او عمومي سوکالی د چارو په ګټه دولت دعوایدو او لګښتونوپه بودیجه کښې اساسي تجدید نظر.

۱۷- د غیر مستقیمو مالیاتو د کمولو او دتصاعدي مستقیمو مالیاتو د زیاتولو پر لوری دهیواد پر مالیاتي سیستم باندې نوی نظر کول .

۱۸- دخلکو په ګټه په لازمه سطح کې د قیمتونو تثبیتول او کنترولول .

۱۹- هغو ټولو ماشومانو ته د زده کړی عمر ته رسیدلی دی د لومړنیو عمومي اجباري او وړیا زده کړو تامینول او د بیسوادۍ پرضد دمبارزی لپاره د ټولو ضروري شرطونو برابرول .

۲۰- دهیواد داقتصادي تکامل د اړتیا وړ علمي او فني کادرونو د روزلو په منظور د منځنیو ،لوړو او حرفوي وړیا زده کړو پراختیا اوپه ښونځیو او دلوړو ښوونو په موسسو کې په درسي ټولو پروګرامونو باندې نوی کتنه .

۲۱- د یوی کلتوری ملي مترقي سیستم او په لومړي ګام کې دافغانستان د اوسیدونکو استو ګنو قومونو او ملیتونو پخپلو مورنیو ژبو دهغوی د هنر او ادبیاتو د تکامل تعلیماتو اوخپرونو لپاره د لازمو شرایطو تامینول .

۲۲- د روغتیایی وړیا خدمتونو تامین او په صحی چارو کې د ضد اجتماعي سوداګریو ختمول. له راز راز ناروغیو سره مبارزه او وقایوی او معالجوی طب ته د ودې او پراختیا ورکول .

۲۳- دظلم اوستم د ټولو بڼو او ډولونو ، دبیکارۍ اوبی سوادۍ رشوت خوړلو او کاغذ الوزولو ،احتکار اوسود اخیستلو اوقاچاق د له منځه وړلو لپاره د اغیزمنو تدابیرو نیول او له فحشا او په الکولي مشروباتو ،چرسوو اوتریاکو او نورو مخدراتو باندې د معتاد کیدو پر ضد مبارزه .

**د خارجي سیاست په برخه کې :**

له هغه ځایه چې د افغانستان د دموکراتیک جمهوري حکومت اړیکې له ګاونډیانو هیوادونو او د سیمې او نړۍ له هیوادو سره زمونږ د سیمې او نړۍ له هیوادونو سره زمونږ د دموکراتیک او ملي انقلاب په باب د هغوی د سلوک په څرنګوالي باندې ولاړ دی .

دافغانستان د دموکراتیک جمهوري خارجي سیاست عبارت دی له :

۲۴- دناپیلتوب مثبتې اوفعالی بیطرفیی اوپه سوله سره د ګډ ژوند پر اصولو باندې د ولاړ مستقل اوسوله غوښتونکی سیاست چلول .

۲۵- د افغانستان د دموکراتیک جمهوری له ټولو ګاونډیانو سره د ښه ګاونډیتوب ،دوستی اوهمکارۍ دمناسباتو ټینګول له خپل شمالي ستر ګاونډ شوروي اتحاد سره د هر اړخیز و دوستانه مناسباتو تحکیم ،پراختیااو توسعه له هند سره د دوستانه مناسباتو پراختیا له ایران ،پاکستان او چین سره د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د دوستانه مناسباتو تامینول . د پښتنو او بلوڅو خلکو دخپلی ارادی په اساس او تاریخي سوابقو پر بنسټ د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت او پاکستان ترمنځ دسوله ایزو مفاهمو او خبرو اترو له لارې دهغوی د ملي مسالی حل کول .

۲۶- دنړیوالې سولی دساتلو په لار کې هڅه او په سیمه کې د سولې بنسټونو تحکیمول د عمومي بی وسلی کولو په لار کې مبارزه او په لومړي پړاو کې د ذروي وسلی دخپریدو مخنیوی . په پردیو خاورو کې دفوځي اډو لغوه کول او دبین المللی دیتانت پراخول او ژورول .

۲۷- د نوي او زاړه استعمار پر ضد او د امپریالیزم پر ضد په مبارزه کې د اسیا ،افریقااو لاتینی امریکا د ملي خلاصون دنهضتونو ملاتړ .

۲۸- اسرائیلو له تسلط او تیری څخه دخپلو خاورو په آزادولو کې دعربي خلکو د مشروع حقوقو او د فلسطیني دولت دتشکیل په شمول د خلکو د حقوقو ملاتړ .

۲۹- دافریقا د جنوب د خلکو او وطنپرستو قوتونو د روا استقلال غوښتونکو او حق غوښتونکو غوښتنو او نژادي توپیر او اپارتاید پر ضد مبارزه کې دهغوی ملاتړ .

۳۰- د بشر دحقوقو د اعلامیې او دملګرو ملتونو د منشور احترام او رعایت ...

**ګرانو وطنوالو !**

په داسې حال کې چې دافغانستان د دموکراتیک جمهوریت انقلابي شورا او حکومت ستر او مهم تاریخي وظایف په خپله غاړه اخیستی دی د افغانستان له ټولو خلکو څخه غوښتنه کوي چې د افغانستان د خلک د دموکراتیک ګوند تر لارښوونې لاندې دي ټول دموکراتیک او وطنپرست ترقي غوښتونکی او ملي قوتونو د یووالي او اتحاد تر جنډې لاندې سره یو موټی متحد او راغونډ شئ چې پدې توګه په ډېره لنډه ممکنه موده کې دافغانستان د خلکو دموکراتیک او ملي انقلاب وروستي بري ته ورسول شي اوخامخا رسول کیږي او په لومړي پړاو کې دموکراتیکه ټولنه او ورپسې د هوساینې او نیکمرغۍ ټولنه دهر ډول ملي او اجتماعي ظلم له قیده آزاده او د انسان په لاس د بل انسان له استثمار فارغه او خوندي ټولنه مینځ ته راشي .

ژوندی دې وي دافغانستان دموکراتیک جمهوریت .

ژوندي دې وي دافغانستان خلک وړاندې دسولې د ملي استقلال د تحکیم د موکراسي ترقي او واقعي اجتماع عدالت په لور .

**مقدمه**

تحلیل مشخص از وضع جنبش و جامعه- شناخت قوانین تکامل اجتماعي تعین وظایف اقتصادي ،سیاسي ، اجتماعي وفرهنگي به خاطرتحول انقلابي جامعه همه از مشخصات رژیم های دموکراتیک و خلقیست که برپایه اتحاد داوطلبان ملیونها انسان زحتمکش استوار میباشد .

خطوط اساسی وظایف انقلابی جمهوري دموکراتیک افغانستان نیز به اساس همین درک و شناخت عمیق و همه جانبه از وضع مشخص کشور و قوانین عینی تکامل جامعه عقب نگهداشته شده ما علماً تنظیم و توسط نورمحمد تره کی منشی عمومي حزب دموکراتیک خلق رئیس شورای انقلابي و صدراعظم جمهوری دموکراتیک افغانستان شام ۱۹ ثور ۱۳۵۷ – مطابق ۹ می ۱۹۷۸ از طریق رادیو نشر وپخش گردیده است.

وزارت تعلیم و تربیه ملی افغانستان بخاطر بسیج مبارزان انقلابی به وظایف علمي و عملی شان و به خصوص به خاطر بسیج معلمان وطنپرست – شاگردان ونسلهای پر توان امروز و فردای افغانستان مستقل تصمیم گرفت تا خطوط اساسی وظایف انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان رابه زبانهای ،پشتو ،دری ، ازبکی ،بلوچی و نورستانی طبع و نشر و در دسترس فرزندان آگاه خلق با شهامت کشور خود بگذارد تا بر طبق آن راه دشورا زندگی امروز وفردای خویش را روشن وهموار نما یند .

دستگیر پنجشیری

وزیر تعلیم و تربیه

**متن بیا نیه رادیویی**

**نور محمد تره کی**

**رئیس شورای انقلاب**

**و صد راعظم جمهوری**

**دمو کراتیک**

**افغانستان که شام**

**۱۹ ثور ۱۳۵۷**

**از رادیو افغانستان نشر شد**

★

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**هموطنان گرامی !**

قیام مسلحانه ۷ ثور ۱۳۵۷ بمثابه نقطه شروع انقلاب دموکراتیک و ملی که بر اساس اراده خلق زحمتکش افغانستان به رهبری حزب دموکراتیک خلق افغانستان بواسطه افسران وطنپرست و سربازان دلیر انجام گرفت مرحله تاریخی جدیدی را در وطن محبوب و پرافتخار ما افغانستان آغاز نهاده. تحقق کامل پیروزی انقلاب دموکراتیک وملی در این مرحله تاریخی ،مستلزم اجرای وظایف مبرم وضروری حکومت جمهوری دموکراتیک افغانستان است که خطوط اساسی آن برمبنای مشی جاری وعمومی ما دراین مصوب شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان تعین ومشخص گردیده است. البته قبل از تصریح خطوط اساسی وظایف انقلابی حکومت لازم می افتد تا اجمالآ در باره پس منظر انقلاب ۷ ثور روشنی انداخته شود . در ۲۶ سرطان ۱۳۵۲ کودتای نظامی به شرکت یکعده افسران وطنپرست در افغانستان بوقوع پیوست که در نتیجه آن ظاهرآ رژیم سلطنتی ساقط گردید ، زمینه سرنگونی رژیم فاسد و منسوخ سلطنتی با مبارزه پیگری نیروهای وطنپرست انقلابی به پیش آهنگی حزب دموکراتیک خلق افغانستان در کشور قبلآ اماده گردیده بود. ولی سردارمحمد داود مستبد وجاه طلب مزورانه وبه شیوه مکیاولیستی قدرت دولتی را در وجود خویش متمرکز ساخت و در آغاز به مقصد فریب وعوام فریبی یک پروگرام بالنسبه مترقی را اعلام نمود که مورد پشتیبانی نیروهای مترقی قرار گرفت .اما طی پنج سال عملآ هیچگونه تغیری در جهت ترقی اجتماعی و اقتصادی کشور رونما نگردید . بقایای مربوطه به سلطنت فرتوت وبوروکراسی فاسد وماشین شکنجه دهنده رژیم سلطنتی وطبقات حاکم ستمگر واستثمارگر در کشور زنده وپا برجا باقی ماند. باند خاندان سلطنتی محمد نادر در داخل و خارج خلق افغانستان به دسایس خاینانه سلطنتی خو د ادامه دادند. قدرت سیاسی طبقات حاکم ستمگر واستثمارگر از طرف رژیم ،کماکان اعمال میگردید و در نتیجه قدرت دولتی در افغانستان به طبقات واقشار دموکراتیک و ملی انتقال نکرد .

محمد داود پس از یک زمانه کوتاه به ترد عناصر ملی و مترقی از مقامهای دولتی عملآ داخل اتحاد با عناصر راستگرا ،مرتجع ،سلطنت طلب و عمال ارتجاع داخلی و خارجی گردید و طرفداران و هواداران دستگاه کهنه سلطنتی و خایئنین به وطن را به مقامهای حساس دولتی انتصاب کرد .او در حالیکه مذبوحانه تلاش میورزید تا ماهیت واقعی نیت و هدفهای ضد دموکراتیک و ضد ملی خود را در پس پرده جمله های به ظاهر مترقی و در لفافه عبارت پردازیهای انقلابی نما پنهان کند و از خدمت به اکثریت مردم دم زند عملآ ماشین ستمگری رژیم سلطنتی را که نادر سفاک و هاشم جلاد بشیوه استعماری بوجود آورده بودند دست نخورده باقی گذاشت وآنرا تکیه گاه اساسی خود قرار داد .

**سیاست ضد ملی داود :**

محمد داود مستبد و عوام فریب در حالیکه در گفتار با اصطلاح مترقی بود ولی در عمل یک سیاست ضد دموکراتیک و ضد ملی و خاینانه را تعقیب کرد آزادی های سیاسی مردم را در بند کشید حقوق دموکراتیک شانرا سلب کرد و با بیشتر میل تمام خلق آزاده افغانستان را بشیوه اداره استعماری تحقیر وتوهین کرد ، با این معنی که گویا مردم افغانستان تا کنون به رشد طبیعی سیاسی خود نرسیده اند. رژیم سیاه داود بدون کوچکترین احترام به پیکار قهرمانانه خلق افغانستان علیه استعمار ،استبداد و ارتجاع و قیحانه ادعا نمود که چند عنصر فاسد وعمال ارتجاع و امپریالیزم در رهبری حزب نام نهاد به اصطلاح «انقلاب ملی» که ماهیتآ ضد انقلابی وضد ملی بودند گویا میتوانند مردم زحمتکش مارا به رشد طبیعی برسانند .

رژیم اختناق و ترور محمد داود بمنظور فریب  تودها ، تخدیر هشیاری و منحرف ساختن آنان از حقایق بخصوص مقوله بزرگ و علماً پر مفهوم انقلاب را بازیچه خود ساخته بود و بغرض جلوگیری از اشاعه اندیشه های انقلابی پیشرو عصر ما وبه منظور جلوگیری از اگاهی تودهای مردم خاینانه ایدیالوژی علمی  را وارده خواند و ایدیالوژی غیر علمی با اصطلاح «ملی» خود ساخته التقاطی بی پایه و جعلی خویش را که عملاً فاقد محتوا ملی بود اشتهار میکرد .

**وضع اقتصادی رژیم داود :**

وضع اقتصادی کشور در اثر سیاست اقتصادی اسارت اور رژیم محمد داود که با فساد اداری ، قانون شکنی ، خودسری ، رشوه ستانی اختلاس و سوء استفاده های گوناگون همراه بود بنحوه روز افزونی به وخامت می گرائید سرمایه گذاری نا چیزی در بخش با اصطلاح انکشافی ، پلان هفت ساله پیشبینی شده بود که هشتاد فیصد ان متکی به کمکهای وقرضهای خارجی بود با آن هم رژیم نتوانست طی سالهای اول و دوم پلان هفت ساله خود تقریباً پنجاه فیصد مجموع بودیجه انکشافی را تدارک ببیند وبمصرف برساند .

چناچه درسال ۱۳۵۵- از جمله مبلغ چهارده میلیاردو بیست و هفت میلیون افغانی بودیجه انکشافی پیشبینی شده صرف هفت میلیاردو نه صدو پنجاه وهفت افغانی و در سال ۱۳۵۶- ازجمله بیست میلیارد و دوصدو سی و سه میلیون افغانی درحدود نه میلیارد دوصد میلیون افغانی گویا مصرف گردیده است  .

رژیم محمد داود بجای آنکه منابع داخلی وخارجی مطمئن برای تمویل پروژه های انکشافی جستجو نماید حاضر شد که منافع ملی ، وطن وخلق افغانستان را در قمار های خاینانه سیاسی خود قربان کند و در برابر وعده به اصطلاح عطای قرضه های اسارت بار و با قید وشرط اساسی  واقتصادی به تحمیلات نو استعماری خاینانه تن در دهد. سیاست خارجی رژیم داود هر روز پیش از پیش شکل معامل گرانه سازش کارانه و تسلیم طلبانه تری را در برابر ارتجاع امپریالیستی و وابسته به آن به خود میگرفت .

موء جز اینکه رژیم محمد داود با تعقیب یک چنین سیاست ضد دموکراتیک ضد ملی وضد منافع خلق کشور در آستانه تبدیل کامل بیک رژیم توریستی و فاشیستی بیک رژیم مطلقاً وابسته به ارتجاع داخلی وخارجی قرار گرفت که از مظاهر آن ترور وقتل چند تن از جمله یکی از بهترین فرزندان وطن پرست و زحمتکش خلق کشور ( خیبر شهید ) ونقشه گرفتاری و حبس غل و زنجیر ، ترور واعدام وطنپرستان انقلابی وسرکوب کردن نیروهای ترقی خواه وطنپرست و دموکراتیک از جمله اعضای موجود شوری انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان بود بدین قرار کاملاً اشکار و قابل درک بود که تودهای مردم در تحت پنجهای خونین رژیم ظاهر شاهی وداودی درظلم وستم در فقر و بیکاری در بیماری و بیسوادی دست وپا میزدند و نارضایی انان بصورت همه جانبه کسب شدت کرده و رژیم مستبد محمد داود کاملاً  از خلق تجرید وروبرو بر ضد آن قرار گرفته بود . این ناراضایی های در اخرین روزها از حالت بالقوه بالفعل واز حالت تراکم کمی خود به تغیرات کیفی منجر گردید  وشرایط عینی و ذهنی اغاز انقلاب دموکراتیک و ملی در کشور نضج یافت و در اثر ان قیام انقلابی مسلحانه هفت ثور ۱۳۵۷-به رهبری حزب دموکراتیک خلق افغانستان در روز روشن ودر کمترین زمان و با کمترین ضایعات طومار سیاه رژیم تروریستی وطراز فاشیستی محمد داود را درهم و پیچید بدین جهت قیام انقلابی هفت ثور به معنی واقیعی کلمه یک انقلاب ظفر آفرین خلق افغانستان است نه یک کودتاه .

**وظیفه انقلاب :**

اکنون شورای انقلابی وحکومت جمهوری دموکراتیک افغانستان که پس از انجام قیام انقلابی مسلحانه هفت ثور متکی بر اراده خلق اراده و زحمتکش کشور تشکیل یافته وحاکمیت طبقات واقشار دموکراتیک خلق افغانستان را تمثیل میکنند خود را موظف میدانند تابه پشتیبانی واشتراک توده های وسیع مردم انقلاب دموکراتیک وملی راکه در افغانستان بصورت قانونمند وپیروز مندانه آغاز گردیده است تحکیم وتکامل بخشند و در جهت پیروزی نهایی رهبری کنند .

حکومت جمهوری دموکراتیک افغانستان با در نظر داشت تدارک شرایط برای ایجاد شورای انقلابی خلق و تدوین قانون اساسی جمهوری دموکرتیک افغانستان و با در نظر داشت جدی اصل مصوونیت و ازادی دموکراتیک افراد وخانواده ها تامین وتحکیم قانونیت دموکراتیک در کشور احترام به اساسات دین مقدس اسلام احترام به عنعنات و سنن پسندیده ملی و به اصل ملکیت شخصی وظایف انقلابی خود را دراین مرحله مطابق به خطوط اساسی ذیل ایفا میکند .

**در عرصه سیاست داخلی :**

در حالیکه دفاع ازتمامیت ارضی حاکمیت ملی واستقلال ملی کشور دفاع قاطع از دست اوردهای انقلاب هفت ثور ۱۳۵۷ فلج وسرکوب نمودن نیروهای ضد انقلاب ، تامین وحدت عمل کلیه نیروهای دموکراتیک و ملی ترقی خواه و وطنپرست ، دردفاع از انقلاب تامین امنیت ،مصنویت ،ازادی و وحدت خلق کشور از وظایف درجه اول حکومت جمهوری دموکراتیک افغانستان است حل مسایل از بین بردن عقب مانده گی اقتصادی ،ایجاد یک اقتصاد مستقل ،ملی تسریع اهنگ رشد اقتصادی وعصری زراعت و مالداری صنعتی ساختن کشور و اعتلای سطح زنده گی توده های مردم مستلزم انست که در زودترین زمان ممکن تحولات بنیادی اجتماعی واقتصادی زیرین اجرا شود .

۱- انجام اصلاحات ارضی دموکراتیک به نفع دهقانان زحمتکش وباشتراک فعال خود آنان ،و اباد ساختن زمینهای بایر ،بسط واصلاح سیستم ابیاری وحل مساله چراگاه ها .

۲- الغای مناسبات کهنه فیودالی و ماقبل فیودالی.

۳- اتخاذ تدابیر و اقدام های لازم در زمینه تجارت داخلی وخارجی به نفع مردم و مصالح ملی کشور .

۴- تقویه سکتور دولتی اقتصاد با پلانگذاری علمی و استقرار حاکمیت موثر بر ذخایر و منابع طبیعی کشور و پرورش کادرهای ملی .

۵- دموکراتیک کردن حیات اجتماعی و دستگاه دولتی .

۶- حل دموکراتیک مساله ملی .

۷- طرد نفوذ نو استعماری امپریالیزم و وابسته به ان در عرصه های مختلف اعم از اقتصادی ،سیاسی ،فرهنگی و ایدیالوژیک .

۸- تصفیه دستگاه دولت از وجود عناصر ضد انقلاب ضد دموکراتیک وضد منافع خلق و وطن وایجاد یک اداره دولتی سالم دموکراتیک وخدمت گذار مردم .

۹- تقویه و تکامل اردو رهایی بخش ملی وقهرمان جمهوری دموکراتیک افغانستان که از انقلاب و دست آوردهای ان دفاع مینماید تامین حقوق کامل و عادلانه برای افسران وسربازان وطنپرست وبه خصوص حق شرکت وسیع آنان بدون تبعیض او امتیـــاز دوش بـــدوش همـــه وطنپرســـتان در حیـــات وفعالیـــت هـــای سیاســـی و اجتمـــاعی در کشـــور .
۱۰- تامین دموکراسی به نفع خلق تضمین حقوقی و ازادی های دموکراتیک وبر اوردن خواستهای اقتصادی وصنفی خلق افغانستان اعم از کارگران .دهقانان ، افسران و سربازان پیشه وران واهل کسبه ، روشنفکران روحانیون وطنپرست ،کوچیان زحمتکش ،طبقات واقشار کوچک متوسط یعنی تاجران و سرمایه داران ملی کشور .

۱۱- وضع وتطبیق قوانین دموکراتیک در تمام عرصه ها و الغای کلیه قوانین مقررات و موسسه های که با ارمانها واصول انقلاب هفت ثور ۱۳۵۷ در تناقض است .

۱۲- تامیم تساوی حقوق زنان با مردان در کلیه زمینه های اجتماعی ،سیاسی ،فرهنگی و مدنی .

۱۳- حل دمو کراتیک مسالی کوچی ها .

۱۴- حمایت از صنایع و تولید داخلی در برابر رقابت اموال خارجی و تشویق ، حمایت ،کنترول و رهنمایی سرمایه گذاری های خصوصی در صنایع و موسسه های کوچک و متوسط .

۱۵- بسط مناسبات اقتصادی وهمکاری های فنی باکشورهای دوست وجلب قرضه های بدون قید وشرط انها به منظور تصریح اهنگ رشد اقتصادی کشور .

۱۶- تجدید نظراساسی در بودیجه عواید و مصارف دولت بسود امور تولیدی ، تعلیمی ، صحی ،عمرانی و رفاه عمومی .

۱۷- تجدید نظر در سیستم مالیاتی کشور در جهت کاهش از مالیات غیر مستقیم و افزایش مالیات تصاعدی مستقیم .

۱۸- تثبیت وکنترول قیمت ها در سطح لازم به نفع مردم .

۱۹- تامین تعلیمات ابتدایی ، عمومی ، اجباری و رایگان برای تمام اطفال که به سن تحصیل رسیده اند وایجاد کلیه شرایط لازم برای مبارزه موثر علیه بیسوادی .

۲۰- بسط تعلیمات متوسط ، عالی وحرفه رایگان بمنظور پرورش کادرهای علمی وفنی مورد نیاز تکامل اقتصادی کشور و تجدید نظر به کلیه پروگرامهای درسی مکاتب و موسسات تعلیمات عالی .

۲۱- ایجاد یک سیستم مترقی فرهنگی ملی و در گام اول تامین شرایط لازم برای تکامل هنر و ادبیات تعلیمات ونشرات به زبانهای مادری اقوام وملیت های ساکن افغانستان.

۲۲- تامین خدمات صحی رایگان و خاتمه دادن به سوداگری های ضد اجتماعی در امور صحی مبارزه علیه بیماری های گوناگون و بسط و توسعه طب وقایوی ومعالجوی .

۲۳- اتخاذ تدابیر موثر برای از بین بردن تمام اشکال و انواع ظلم وستم ،بیکاری بیسوادی ، رشوه خوری و کاغذ پرانی ، احتکار سود خوری ، قاچاق بری و مبارزه علیه فحشاه قمار و اعتیاد به مشروبات الکولی ،چرس ،تریاک وسایر مخدرات .

**در عرصه سیاست خارجی :**

درحالیکه روابط حکومت جمهوری دموکراتیک افغانستان با کشورهای همجوار منطقه وجهان بر ملاک برخورد انها در برابر انقلاب دموکراتیک و ملی ما استوار میباشد سیاست خارجی جمهوری دموکراتیک افغانستان عبارت است از :

۲۴- تعقیب سیاست عدم انسلاک وبیطرفی مثبت و فعال ، مستقل وصلح جو یا نه مبتنی بر اصول همزیستی مسالمت آمیز .

۲۵- استقرار مناسبات حسن همجواری ، دوست وهمکاری باهمه همسایگان جمهوری دموکراتیک افغانستان ، تحکیم ، بست وتوسعه همه جانبه مناسبات دوستانه به همسایه بزرگ شمالی ما اتحاد شوروی توسعه مناسبات دوستانه با هند ، تامین مناسبات دوستانه جمهوری دموکراتیک افغانستان با ایران ، پاکستان و چین .حل مساله ملی خلق های پشتون وبلوچ به اساس اراده خود انها وبنابر سوابق تاریخی حل این مسئاله از طریق مفاهمه ها و مذاکرهای صلح امیز سیاسی میان جمهوری دموکراتیک افغانستان و پاکستان .

۲۶- سعی در راه حفظ صلح جهانی وتحکیم مبانی صلح در منطقه مبارزه در راه خلع سلاح عمومی و در مرحله اول برای جلوگیری از اشاعه سلاح هسته یی الغاء پایگاه های تجاوز کارانه نظامی در خاکهای بیگانه وبسط وتعمیق دیتانت بین اللمللی .

۲۷- پشتیبانی از جنبش های های بخش ملی اسیا افریقا وامریکای لاتین در مبارزه علیه استعمار کهنه و نو امپریالیزم .

۲۸- پشتیبانی ازحقوق مشروع خلق های عرب برای ازادی سر زمین های شان از تحت تسلط و تجاوز اسرائیل و از حقوق خلق عرب فلسطین بشمول تشکیل یک دولت مستقل فلسطيني .

۲۹- پشتیبانی از خواسته های مشروع استقلال طلبانه و حق طلبانه خلق ها و نیروهای وطنپرست جنوب افریقا در مبارزه علیه تبعیض نژادی و اپارتاید.

۳۰- احترام او رعایت اعلامیه حقوق بشر ومنشور ملل متحد .

**هموطنان گرامی !**

در فرجام در حالیکه شورای انقلابی وحکومت جمهوری دموکراتیک افغانستان وظایف عظیم و خطیر تاریخی را به عهده گرفته است از تمام مردم افغانستان می طلبد که تحت پرچم وحدت و اتحاد تمام نیروها ی دموکراتیک و ترقی خواه وطنپرست و ملی به رهبری حزب دموکراتیک خلق افغانستان متشکل متحد وب سیج شوند تا به زودترین زمان ممکن بتوان ومسلماً میتوان انقلاب دموکراتیک وملی خلق افغانستان رابه پیروزی نهایی رساند و در مرحله اول جامعه دموکراتیک و سپس جامعه رفاه و خوشبختی ، جامعه آزاد از قید هرگونه ستم ملی واجتماعی فارغ از استثمار انسان از انسان را ایجاد کرد .

زنده باد جمهوری دموکراتیک افغانستان .

زنده باد خلق افغانستان ،به پیش بسوی صلح ، تحمکیم استقلال ملی ، دموکراسی ، ترقی وعدالت واقعی واجتماعی .